
# د ایصالِ ثواب برکتونه

**29-February-24**



هفته وار د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بيان

(for Islamic Brothers)

په 29 فرورئ کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کیدونکے بیان

# د ایصالِ ثواب برکتونه

په دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

✿... په قبر باندې د شنې خانګې کیښودو برکت

✿...د خوږ آقا ﷺ په مرحومانو باندې رحمت

✿... په مرحومانو باندې د رحم طریقې

✿...ډوب شوي جازونه واپس میلاو شول

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

# د دُرُودِ پاک فضيلت

د يوې زنانه ځوي ډير ګنهګار وو. هغې زنانه به هغه ته د نيکۍ حکم کولو او د بے حيايۍ او بدو کارونو نه به يې منع کولو خو هغه به نه منع کيدو. آخر پرې تقدير غالب شو او هغه ځلمے بغير د توبې نه مړ شو. مور يې ډيره خفه شوه، د ځوي د مرګ سره سره د هغې سره دا غم هم وو چې ځوي يې توبه نه وه کړې او په ګناهونو کښې مړ شو. يوه ورځ هغې زنانه خپل ځوي په خوب کښې اوليدو، هغه په عذاب کښې ګرفتار وو، نو زنانه نوره هم غمژنه شوه. څه ورځې تيرې شوې نو هغې بيا خپل ځوي په خوب کښې اوليدو، په دې ځل د هغه حالت ښه وو او هغه ډير خوشحاله وو. زنانه ترينه په حيرانتيا سره پوښتنه اوکړه: ځويه! مخکښې خو ته په عذاب کښې ګرفتار وې...!! د هغې نه نجات څنګه حاصل شو؟ ځوي يې اووئيل: مور جانې! يوه ورځ يو ګنهګار ګس د هديرې په خوا تيريدلو، رنګ قبرونه چې يې اوليدل نو د هغه په زړۀ اثر اوشو، هغه د آخرت په باره کښې غور او فِکر شروع کړو نو هغه په خپلو ګناهونو باندې پښيمانه شو، هغه خپلې غلطۍ رايادولې او ژړل يې، هغه د زړۀ نه رښتونې توبه اوکړه. د هغې نه پس هغه د قرآنِ کريم لږ تلاوت اوکړو، بيا يې شل ګرَته درودِ پاک اولوستو او د هغې ټولو



www.dawateislami.net

ثواب يـې هديرې والؤ ته اوبخښو. د هغهٔ راښخښلے شوے ثواب په مونږ تولې هديرې والؤ باندې تقسيم کړے شو، بس دا د ايصالِ ثواب برکت دے چې مونږ د عذاب نه خلاصے بیاموندو. **څوک يې نور اووئيل: مور جانې! په رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ** پاک **لوستل د زړونو نُور، د ګناهونو کفاره او د ژوندو او مړو د پاره رحمت دے.** (1)

| | |
|---|---|
| ذات والا په بار بار درود | بار بار اور بے شمار درود |
| بے عدد اور بے عدد تسلیم | بے شمار اور بے شمار درود |
| قبر میں خوب کام آتی ہے | بیکسوں کی ہے یارِ غار درود(2) |

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې ايمان تازه کوونکې واقعې نه مونږ ته ډير سبقونه ميلاويږي، مثلاً ❁ د دې نه دا سبق حاصل شو چې په توبه کښې چرې هم د لم ليټ نه کار نه دي اخستل پکار، پته نه لګي چې مرګ کله راځي، او کله به رُوح قبض کړے شي، **الله** دې نه کړي که بغير د توبې نه مړهٔ شُو نو په عذاب کښې ګرفتاريدے شو. ځکه مونږ له پکار دي چې د ګناهونو نه ځان ساتو او د زړهٔ د اخلاصه رښتوني توبه هم اوباسو.

| | |
|---|---|
| مت گناہوں پہ ہو بھائی بے باک تُو | بھول مت یہ حقیقت کہ ہے خاک تُو |
| تھام لے دامنِ شاہِ لولاک تُو | سچّی تَوبہ سے ہو جائے گا پاک تُو(3) |

❁ نور د دې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې هديرې ته تلل، ړنګ قبرونو او ويجاړ

---

1...الروض الفائق، اَلْمَجْلِسُ الْاَوَّلُ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم...الخ، صفحه:8۔

2...ذوقِ نعت، صفحه:123 تا125 ملتقطاً۔

3...وسائلِ بخشش، صفحه:656۔



www.dawateislami.net

ماحول ته د کتلو سره ❀ آخرت رایادیږي ❀ زړۀ نرمیږي ❀ د دُنیا محبت د زړۀ نه لرې کیږي ❀ او د توبې په لور مائله کیږي، ځکه مونږ له پکار دي چې وخت په وخت هدیرې ته ځو، هلته لږ وخت ایساریږو او د قبر د حالاتو او د قیامت په ورځ د قبرونو نه د راپاڅیدو په باره کښې غور او فِکر کوو. د دې په برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ❀ زړۀ روښانه کیږي ❀ د ګناهونو نه به نفرت پیدا کیږي ❀ او د نیکو سره به محبت نصیب کیږي.

❀ د دې واقعې نه دا اهمه خبره هم زده کیږي چې کله هم د هدیرې په خوا تیریدل وي نو ❀ پکار دي چې تلاوت اوکړے شي او ❀ درودِ پاک اولوستلے شي او ❀ خه ذِکر و اَذکار اوکړے شي او هدیرې والؤ ته ایصالِ ثواب اوکړے شي. د دې به چې کوم برکتونه مونږ ته میلاویږي، هغه خو به هسې هم میلاویږي، او معلومه نه ده چې زمونږ د دې ایصالِ ثواب په برکت به هغه هدیرې والؤ ته کومې کومې فائدې رسي. الله پاک دې زمونږه په کثرت سره د درودِ پاک د لوستلو او د هغې ثواب ټولو مسلمانانو ته د بخښلو توفیق رانصیب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان اوریدلو نیتونه

په حدیثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. (1)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په ښو ښو نیتونو د عمل ثواب زیاتیږي. راځئ! د بیان اوریدو نه مخکښې څه ښه ښه نِیَّتونه اوکړو: مَثَلاً ❀ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بیان اورم ❀ په اَدَب به کښینم ❀ ښه په توجُّه به بیان اورم ❀ څه چې واورم، د هغې به

1...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔



www.dawateislami.net

د یادولو، ټخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## په قبر د شنې څانګې کیښودو برکت

**په بُخاري شریف کښې دي:** سُلطانُ المُفَسِّرِین حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہما فرمائي: یو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د دوو قبرونو په خوا تیریدلو، هغوئي صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم هغې ته اوکتل او اوئې فرمائیل: دې دواړو قبرونو والؤ باندې عذاب کیږي او عذاب هُم پرې د څه غټ جرم په وجه نه دے (یعني دوئي چې په کومه ګناه کښې اخته وو، هغه داسې نه وه د کومې نه چې بچ کیدل ګران وو) ❁ په دې کښې به یو د مِتیازو د دارو نه ځان نه ساتو ❁ بَل به چغلي کوله. بیا خوږ آقا، محبوبِ خُدا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم یوه شنه څانګه راواخسته، هغه یې دوه ځائے کړه، یوه حصه یې په یو قبر باندې او بَله حصه یې په بَل قبر باندې ښخه کړه. صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم د دې د حکمت په باره کښې پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائیل: لَعَلَّهُ اَنْ یُّخَفَّفَ عَنْهُمَا مَا لَمْ یَیْبَسَا اُمید دے **چې تر څو پورې دا څانګې نه وې وَچې شوې، د دې مړو په عذاب کښې به کمے کیږي.** (1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د حدیثِ پاک نه میلاویدونکي سبقونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د دې **حدیثِ پاک** نه مونږ ته ډیر زیات سبقونه حاصلیږي:

### (1): د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د نظر مبارک کمال

---

[1]... بخاری، کتاب الجنائز، باب الجرید علی القبر، صفحہ: 381، حدیث: 1361۔



www.dawateislami.net

**د ټولو نه وړومبے خو د دې حديث مبارک په رڼا کښې د خوږ مصطفٰے** صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **د نظر مبارک کمال ته اوګورئ!** دلته دا مه ګڼئ چې په قبر باندې د پاسه يو څو مَنه خاوره ده نو سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صرف د دې خاورې نه لاندې اوکتل، **نه، نه...! داسې نه ده،** هغه جهان بدل دے، قبر ته دننه کتل هسې خو شرعاً صحيح نه دي، البته که د باران وغيره له وجهې قبر برسيره شي نو مونږ ته به هلته هيڅ نه ښکاري، ولې؟ ځکه چې مونږ چې څه وينو، هغه دُنيا ده، د مَړي سره چې څه معاملې کيږي، هغه په دُنيا کښې نۀ بلکې په بَل جهان يعنې په عالَمِ برزخ کښې کيږي. **خو قربان شم!** دا د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر کمال دے، هغوئ صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې دُنيا کښې د ظاهري ژوند سره تشريف فرما وو، دا جهان بيل دے، عالَمِ برزخ بيل جهان دے او هغوئ صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په دې جهان کښې د موجود کيدو سره بَل جهان اوليدو او په بَل جهان کښې څه کيږي؟ په څه وجه کيږي؟ په دې هر څه هُم پوهه شولو.

سيدي اعلیٰ حضرت رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر کمال بيانوي او فرمائي:

شش جہَت سمتِ مقابِل شب و روز ایک ہی حال
دُھوم وَالنَّجْم میں ہے آپ کی بینائی کی[1]

**د شعر وضاحت:** مونږه عام خلق چې يُو نو مونږ ته صرف هغه څيز ښکاري کوم چې زمونږ د سترګو د وړاندې وي خو د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د نظر مبارک دا کمال دے چې هغوئ بره، ښکته، ښي، ګڅ، مخکښې وروستو هر طرف ته وِيني، شپږ واړه اړخونه (يعنې ښي، ګڅ، بره، ښکته، مخکښې، وروستو) د هغوئ صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د پاره

[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:154۔



www.dawateislami.net

داسې دي لکه څنګه چې د عامو سترګو د پاره مخې ته اړخ وي او دا داسې نه ده چې بعضې وخت وي بلکې شپه ورځ، هر وخت، هر سعت د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پاک نظر هم دغه کمال دے. که د دې دليل کتل غواړئ نو په 27 سيپاره کښې **سورۂ وَ النَّجم** اولولئ، **الله** پاک په دې سورت کښې د خپل محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کتلو د طاقت کمال بيان کړے دے.

## آقا ﷺ ته عِلم غيب دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** دلته دا يوه خبره هم ډيره ايمان تازه کوونکې ده چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کله په دُنيا کښې تشريف فرما وو نو عالَمِ برزخ به يـې ليدلو نو غور اوکړئ! اوس مونږ په ظاهري دنيا کښې يو او زمونږ خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په عالمِ برزخ کښې تشريف فرما دے، که هغوئي په دې دُنيا کښې د پاتې کيدو سره عالم برزخ ليدلے شي نو په عالمِ برزخ کښې د پاتې کيدو سره مونږه غلامان څنګه نشي ليدلے . يقيناً د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شانونه هر سعت زياتيږي هغوئي چې څنګه په دنيا کښې د پاتې کيدو سره برزخ ليدلو، هم داسې په عالمِ برزخ کښې د پاتې کيدو سره مونږ غلامان هم ويني.

## (2): دوه خطرناک ګناهونه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې حديث مبارک نه مونږه دا خبره هم زده کړه چې د چغلئ نه او د متيازو د دارو نه نۀ بچ کيدل هم خطرناک ګناهونه دي.** هم د دې ګناهونو په وجه هغه مړي په عذاب کښې وو او خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغوئي په باره کښې اوفرمائيل: مَا يُعَذِّبَانِ فِيْ كَبِيْرٍ يعنې هغوئي ته عذاب د څه داسې ګناه په



www.dawateislami.net

وجه نه ورکولے کيږي د کومې نه چې بچ کيدل ډير ګران دي. [1]

پته اولګيده چې د چغلۍ او د متيازو د دارو نه ځان نه بچ کول داسې ګناهونه نه دي د کومو نه چې بچ کيدل ډير ګران وي **خو افسوس**! نن سبا حالات ډير خراب دي، په اوسني وخت کښې نيکي ډيره ګرانه او ګناه ډيره آسانه شوې ده. داسې ګناهونه د کومو نه چې بچ کيدل ګران نه دي، زمونږه معاشره د هغه ګناهونو په ولقه کښې هُم راغلې ده.

❁ **چغلۍ ته اوګورئ**! د فساد د پاره د يو ګس خبره بَل ته رَسَوَلو ته چغلي وئيلے شي. [2]

❁ چغلي ناجائزه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے. [3] **خو افسوس**! زمونږه حالت داسې دے چې ❁بس دوه ګسان چرته کښيني نو غيبت، چغلي [شروع شي] ❁په کورونو کښې غيبتونه، چغلياني ❁ په بازار کښې دکانداران په خپل مينځ کښې د يو بَل چغلي کوي ❁ په دفترونو کښې غيبتونه، چغلياني ❁ د دوستانو سره په ناسته کښې غيبت، چغلي ❁ غرض چې دا ګناهونه دومره زيات دي چې **بس د الله پناه...!!** نن سبا د دې نه بچ کيدل هم ډير ګران دي. په سوچ سره د خبرې کولو خو عادت بالکل د نشت برابر دے، لهٰذا ښه تعليم يافته هم په خبرو کښې بے احتياطي کوي ❁ غيبت کوي ❁ چغلي کوي ❁دروغ وائي خو اندازه قدرې هُم ورته نه وي چې "**ما چې اوس څه ووئيل، دا څومره خطرناک جُرم دے**" بس ژبه خوزي او په ګناه پسې ګناه کيږي. ❁ **هُم دغه شان د مِتيازو د دارو نه د ځان نه ساتلو معامله ده.** ❁ غير مُهَذَّبه خلق په کوڅو کښې ديوالونو ته متيازې کوي، د دې بے شرمۍ کار کښې چې يو خوا نورې ډيرې زياتې بدۍ دي نو بل خوا د

---

[1] ...بخاری، کتاب الجنائز، باب الجريد علی القبر، صفحہ:381، حديث:1361۔
[2] ...الحديقة الندية، القسم الثانی، المبحث الاول، النوع السابع فی النميمة، جلد:4، صفحہ:63۔
[3] ...الحديقة الندية، القسم الثانی، المبحث الاول، النوع السابع فی النميمة، جلد:4، صفحہ:64بتصرف۔



www.dawateislami.net

ميتيازو د دارو نه ځان نه ساتل هم ډېر ګران دي عموماً داسې کوونکي د متيازو د دارو نه د بچ کيدو خپل خيال هم نه ساتي ❀ بعضې ځل ***W.C*** (يعنې په واش رُوم کښې د کښيناستو سيټ) کم ژور لګولے شي، په دې حالت کښې هم خاص طور ښځې د ناپاکه دارو نه ساتل ګران وي، څوک چې د پاکۍ او ناپاکۍ په احکامو نه پوهيږي يا چې څوک د نمونځ عادت لرونکي نه دي، د هغوئې عموماً دې اړخ ته پام هم نه وي، د واش روم نه پس خو لاس وينځي خو ښځې يې ناپاکه پاتې شي ❀ بلکې اوس خو په ولاړه د متيازو کولو رجحان ورځ په ورځ زياتيږي، خاص طور په ائير پورټ او نورو ځايونو کښې په ولاړه د متيازو کولو خاص انتظام وي [دا هُم غير مهذّبه طريقه ده]، په دې حالت کښې هم بدن او جامې د متيازو د ناپاکه دارو نه بچ کول ګران کار دے. **ياد ساتئ! ځان د متيازو د دارو نه نۀ بچ کول سخته ګناه ده.** د غيبو نه خبر نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: **د متيازو نه بچ اوسئ! عام طور د قبر عذاب په هُم دې وجه کيږي.** (1)

## د قبر د عذاب درې بنيادي وجهې

حضرت قَتَاده رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: مونږ ته وئيلے شوي دي چې د قبر عذاب په دريو حصو کښې تقسيم کړے شوے دے **(1):** په دريو کښې يوه حصه عذاب د غيبت په وجه **(2):** يوه حصه عذاب د چغلۍ په وجه **(3):** او يوه حصه عذاب د متيازو (د دارو نه د ځان نه ساتلو) په وجه وي. (2)

**الله** پاک دې مونږ ته د دې دريو واړو بلکې د هر قِسمه ګناه نه د بچ کيدو توفيق

---

[1]... سنن الدار قطني، كتاب الطهارة، جلد:1، صفحه:98، حديث:458۔

[2]... موسوعة ابن ابي الدنيا، كتاب:الغيبة والنميمة، جلد:4، صفحه:355، حديث:52۔

رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (3): د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په مرحومانو باندې رحمت

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د دې حديث مبارک نه د زدکړې د پاره دريم او ډېر اهم سبق دا دے چې زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مرحومانو سره رحمدلي او شفقت...!! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د پاره رحمت دے. **الله** پاک فرمائي:

**وَمَاۤ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ﴿۱۰۷﴾** (پاره:17، آلانبيا:107)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: او مونږه ته د ټولو جهانونو د پاره رحمت ليږلے يې.

چې هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو جهانونو د پاره رحمت دے نو يقيناً هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عالم برزخ والؤ د پاره هم رحمت دے. ځکه خو چې کله هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په قبر کښې هغه دواړه مړي په عذاب کښې اوليدل نو د دواړو جهانونو رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم برداشت نکړے شوه او فوراً يې په عذاب کښې د کمي ذريعه اوفرمائيله، څانګه يې دوه ځايه کړه او په قبرونو باندې يې کيښوده او حکمت يې دا اوښودلو چې **تر څو دا څانګې شنې وي (تسبيح به کوي، د دې د تسبيح په برکت به) په عذاب کښې کمے کيږي.** (1)

علّامه اِبنِ حجر عَسقَلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا واقعه صرف يو ځل نه ده شوې، مونږ ته په حديثونو کښې داسې قِسمه نور واقعات هم ميلاويږي، مثلاً يو ځل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرته په سفر وو، صحابئ رسول حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ورسره وو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو ځائے کښې اودريدلو او په حضرت جابِر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې يې دوه څانګې راوغوښتلې، هغه يې په دوو مختلفو ځايونو

[1] ... بخاری، کتاب الجنائز، باب الجريد علی القبر، صفحه:381، حديث:1361۔

کښېي ښخې کړې، حضرت جابِر رضی اللہ عنہ په دې باره کښېي پوښتنه اوکړه نو اوئې فرمائيل: **ما دوه قبرونه اوليدل، په هغوئي باندې عذاب وو، لهٰذا ما اوغوښتل چې زما د شفاعت په برکت تر څو پورې څانګې شنې وي، تر هغه وخته پورې د هغوئي نه عذاب اوچت کړے شي.** [1]

## خوږ آقا صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم به جنازه ادا کوله

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** دا د رسولِ ذيشان صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په اُمَّت باندې شفقت دے، هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم به د مرحومانو صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم جنازه ادا کوله او په هغې کښېي به يې رغبت ساتلو د پاره د دې چې هغوئي ته د هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د جنازې ادا کولو برکتونه حاصل شي. يوه صحابيه رضی اللہ عنہا وه، هغې به جومات جارو کولو، يو ځل داسې اوشو چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم ډېرې ورځې هغه اونه ليدله، د صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان نه يې پوښتنه اوکړه: هغه جارو کوونکې زنانه چرته ده؟ صحابهٔ کرامو علیہم الرضوان اووئيل: يا رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هغه خو وفات شوې ده. رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم چې دا واوريدل نو خفه شو، اوئې فرمائيل: تاسو زه ولې نه ووم خبر کړے. بيا هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د هغې قبر له تشريف يوړلو. د هغې په قبر يې جنازه ادا کړه او اوئې فرمائيل: **دا قبرونه د تيارې نه ډک دي، بے شکه الله پاک به زما په دې باندې د ادا کړے شوې جنازې په برکت (د دوئي په تيارهٔ قبرونو کښېي) رڼا راولي.** [2]

قبر میں لہرائیں گے تاحشر چشمے نور کے | جلوہ فرما ہو گی جب طلعت رسول اللہ کی [3]

**وضاحت:** زمونږ د غريبانانو قبرونو ته د خوږ آقا صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم په راتلو باندې به د

---

[1] ... فتح الباری، کتاب الوضو، باب من الکبائر...الخ، جلد:1، صفحه:416، زیرِ حدیث:216 بتصرف۔

[2] ... مسلم، کتاب الجنائز، باب الصلاة علی القبر، صفحه:343، حدیث:956۔

[3] ... حدائقِ بخشش، صفحہ:152۔



www.dawateislami.net

هغوئي نوراني مخ داسې جلوې کوې کومې چې به د جنډو په شان زمونږه په قبرونو کښې تر قيامته پورې پرقيږي.

## د يوې مسئلې وضاحت

ياد ساتئ! شرعي مسئله ده چې که د مړي وَلِي (يعنې ډير نزدې خپل لکه پلار يا ځوي وغيره) په جنازه کښې نه وي شريک شوے نو د هغه د پاره اجازت دے چې د دريو ورځو نه مخکښې مخکښې قبر ته لاړ شي، نو د هغه په قبر جنازه ادا کولے شي. زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو د هر مسلمان د هغه د ځان نه هم زيات مالِک دے، ځکه هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې صحابيه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا په قبر باندې جنازه ادا کړه. (1)

## په مرحومانو باندې رحم اوکړئ!

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مونږ له هم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ادا اختيارول پکار دي، په دې دُنيا کښې خو مونږ په يو بَل باندې رحم کوو ❁ که څوک ورپے اووينو نو زمونږ په زړهٔ کښې د هغه د پاره رحم راځي ❁ په تږو اوبه هم څښو ❁ که څوک غم ځپلے اووينو نو که د هغه غم لرې نه کړو نو د تسلئ يو څو جملې خو وايو. دا هم ډيره ښه خبره ده **خو ياد ساتئ!** زمونږه هٰغه ❁ دوستان ❁ خپلوان ❁ زمونږه اشنا خلق ❁ بلکې زمونږه ټول مسلمانان ورونړه کوم چې د دې دنيا نه تلي دي، قبر ته کوز شوي دي، هغوئي زمونږه د رحمدلئ زيات حقداران دي. علّامه اسماعيل حقي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د مرحومانو او خاص طور د مرحومانو مور پلار او استاذانو په حق کښې رحمدله

---

1... فتاوٰی رضویہ، جلد:9، صفحہ:291 ملخصًا۔



www.dawateislami.net

کیدل په مسلمانانو باندې لازمي او ضروري دي. (1)

**یاد ساتئ!** دا ضروري نه ده چې څوک قبر ته کوز شوي دي، هغوئي به ټول ګنهګاران وي، **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** ډیر زیات نیکان پرهیزګاران هم وي بلکې په لکونو اولیائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَيْهِم خو هم په مزارونو کښې آرام فرمائي. بهر حال! مقصد صرف دومره دے چې زمونږ زړۀ د مرحومانو د پاره نرم پکار دے، زمونږ په زړۀ کښې دا شوق پکار دے چې کوم مسلمانان د دنیا نه تلي دي، مونږ له هغوئي هیرول نه دي پکار، یاد ساتل پکار دي. چې اولیائے کرام او نیکان خلق یاد ساتو نو د هغوئي فیضان به زمونږه نصیب کیږي او عام مسلمانان چې یاد ساتو او د هغوئي د پاره زړۀ نرم ساتو نو زمونږ به هم برکتونه نصیب کیږي، د هغوئي به هم ښیګړه کیږي. **الله** پاک دې په مونږ باندې رحم اوکړي، کاش چې د **رَحمَۃٌ لِّلعَالَمِین** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فیضان رانصیب شي او مونږ د ټولو ژوندو او مړو مسلمانانو په حق کښې رحمدل شو.

## په مرحومانو باندې د رحم طریقې

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** مونږه د خپلو مرحومانو د پاره څه کولے شو؟ په کوم کوم انداز کښې هغوئي ته فائده رسولے شو؟ په قرآن او حدیث کښې د دې دوه طریقې ښودلے شوې دي:

## (1): د بخښنې دعاګانې کوئ!

د مرحومانو سره د رحمدلئ ورومبئ طریقه ده: **د بخښنې دعا کول. په حدیثِ پاک کښې دي:** په قبر کښې د مړي حالت د ډوبیدونکي انسان په شان دے (یعنې چې څنګه

1...روح البیان، پارہ:28، سورۂ حشر، زیرِ آیت:10، جلد:9، صفحہ:433۔



www.dawateislami.net

ډوبيدونکے ګس هر بوټي ته لاس اچوي، يعنې هغه چې وړوکے شان بوټے هم اووينې نو طمع ترې ساتي او هغه نيسي چې کيدے شي د دې په وجه د ډوبيدو نه بچ شم، په قبر کښې د مړي حالت هم داسې وي) هغه سخت انتظار کوي چې د پلار يا مور يا ورور يا چا دوست دعا هغه ته راورسي او چې کله د چا دعا هغه ته اورسي نو د هغه په نزد هغه د **دنيا ومَافِيْها** (يعنې د دنيا او په دنيا کښې چې څه دي) د هغې نه بهتر وي. **الله** پاک قبر والؤ ته د هغوئي د ژوندي تعلق [لرونکي] د طرف نه هَدِيَّه (يعنې تحفه) کړے شوے ثواب د غرونو په شان عطا کوي، د ژوندو هَدِيَّه (يعنې تحفه) د مړو د پاره د بخښنې دعا ده. [1]

## د دعاګانو برکت

**په حديثِ پاک کښې دي:** زما اُمَّت به د ګناه سره قبر ته داخليږي او چې کله ووځي نو بے ګناه به وي ځکه چې هغوئي د مسلمانانو په دعاګانو سره اُوبخښلے شي. [2]

## نُوراني جامې

يو بزرګ خپل وفات شوے ورور په خوب کښې اوليدو او پوښتنه يې ترينه اوکړه: آيا د ژوندو خلقو دعا تاسو ته در رسي؟ مرحوم جواب ورکړو: آؤ په **الله** پاک مې دې قسم وي! هغه د نُوراني جامو په شکل کښې راځي، مونږه هغه اغوندو. [3]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1 ...شُعَبُ الاِيمَان، باب فی بر الوالدين، فصل فی حفظ... الخ، جلد:6، صفحه:203، حديث:7905۔

2 ... معجم اوسط، جلد:1، صفحه:509، حديث:1879۔

3 ...شرح الصدور، باب ما ينفع الميت فی قبره، صفحه:214۔



www.dawateislami.net

## د فرښتو یو سُنَّت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د مسلمانانو په حق کښې د بخښنې دُعا کول ډیر د فضیلت والا عمل دے، دا د انبیائے کرامو عَلَیۡہِمُ السَّلَام سُنَّت هم دے، د فرښتو سُنَّت هم دے او د نیکانو خلقو ښکلے ښکلے صفت هم دے. آؤ جي! په قرآنِ کریم کښې ارشاد اوشو:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِیۡنَ یَحۡمِلُوۡنَ الۡعَرۡشَ وَ مَنۡ حَوۡلَهٗ یُسَبِّحُوۡنَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَ یُؤۡمِنُوۡنَ بِهٖ وَ یَسۡتَغۡفِرُوۡنَ لِلَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا ۚ<br>(پارہ:24، المؤمن:7) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: عرش اوچتوونکې او د هغې نه ګیر چاپیره (فرښتے) د خپل رب د تعریف سره د هغه پاکي بیانوي او په هغه ایمان لري او د مسلمانانو بخښنه غواړي. |

سُبۡحٰنَ الله! معلومه شوه چې فرښتې او هغه هم د ډیر فضیلت والا، د عرشِ اعظم اوچتوونکې فرښتې د مسلمانانو په حق کښې د بخښنې دعاګانې کوي.

## د بخښنې دُعا د انبیائے کرامو سُنَّت انبیا دي

هم دغه شان د **الله** پاک د خلیل حضرت ابراهیم عَلَیۡهِ السَّلَام ډیره ښکلې دعا کومه چې شاید مونږه ټولو ته یاده وي، په قرآنِ کریم کښې هم ذِکر شوې ده، هغوئي دعا فرمائیلې ده:

| | |
|---|---|
| رَبَّنَا اغۡفِرۡ لِیۡ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِلۡمُؤۡمِنِیۡنَ یَوۡمَ یَقُوۡمُ الۡحِسَابُ ﴿۴۱﴾<br>(پارہ:13، ابراهیم:41) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: اے زمونږه ربه! ما او زما مور و پلار او ټول مسلمانان اوبخښې په کومه ورځ به چې حساب قائمیږي. |

هم دغه شان حضرت نُوح عَلَیۡهِ السَّلَام دُعا کړې ده:



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِوَالِدَيَّ وَلِمَنْ دَخَلَ بَيْتِيَ مُؤْمِنًا وَّلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُؤْمِنٰتِ ؕ (پاره:29، نوح:28) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: اے زما ربه! ما او زما مور او پلار او زما په کور کښې د ایمان په حالت کښې داخليدونکي او ټول مسلمانان سړي او ټولې مسلمانانې ښځې اوبخښې. |

معلومه شوه چې د مسلمانانو په حق کښې د بخښنې دُعا کول د انبیائے کرامو علیهم السّلام طریقه هم ده.

## د نیکانو خلقو یو صفت

اوس د نیکانو خلقو هم یو صفت واورئ! په قرآنِ کریم کښې دي:

| | |
|---|---|
| وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ (پاره:28، الحشر:10) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: او د هغوئي نه پس راتلونکي عرض کوي: اے زمونږه ربـه! مونږه او زمونږه هٰغه ورونـه اوبخښې کومو چې زمونږ نه مخکښې ایمان راوړلو. |

یعنې هغه نیکان او پرهیزګاران خلق کوم چې د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم نه پس راغلي دي، هغوئي د **الله** پاک په بارګاه کښې دعا کوي: اے زمونږه رَبَّه! مونږه هم اوبخښې او زمونږه هغه ورونه کومو چې زمونږ نه مخکښې ایمان راوړو (او د ایمان په حالت کښې د دنیا نه لاړل) هغوئي هم اوبخښې. (1)

1...صراط الجنان، پارہ:28، سورۂحشر، زیرِآیت:10، جلد:10، صفحہ:77بتغیر۔



www.dawateislami.net

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د صحابهٔ کرامو، اهلِ بیت اطهار رضی اللہ عنہم او د ځان نه مخکښې تیرو شوو ایمان والؤ په حق کښې دعا کول، د هغوئي د پاره د ختمِ پاک او فاتحه وغیره اهتمام کول جائز او ښه عمل دے چې په دې کښې د هغه بزرګانو د پاره دُعا کیږي. (1)

## د بخښنې د دُعا فضیلت

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! که زیات نه وي نو کم از کم روزانه یو ځل د ټولو مسلمانانو په حق کښې د بخښنې د دُعا عادت جوړ کړئ! په حدیثِ پاک کښې دي، زما او ستاسو آقا، محبوبِ خُدا صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم فرمائیلي دي: څوک چې د ټولو مؤمِنانو نارینؤ او زنانؤ د پاره د بخښنې دُعا کوي، الله پاک د هغوئي د پاره د هر مؤمِن نارینه او زنانه په بدل کښې یوه نیکي لیکي. (2)

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! اندازه اوکړئ د حضرت آدم علیہ السلام نه واخله تر اوسه پورې اربونه کهربونه مسلمانان دنیا ته راغلي دي. که مونږه د ټول اُمَّت د بخښنې د پاره دا دعا کوو اَللّٰھُمَّ اغْفِرْ لِیْ وَلِکُلِّ مُؤْمِنٍ وَّمُؤْمِنَۃٍ یعني اے الله! زما او د هر مؤمِن او مؤمِنې مغفرت اوکړې. (3) نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! زمونږه به د اربونو، کهربونو نیکو خزانه په لاس راځي.

الله پاک دې مونږ ته د ټولو د پاره، د خپلو مرحومانو د پاره بلکې د ټول مسلمان اُمَّت د پاره د نیکو دعاګانو کولو توفیق رانصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلی اللہ علیہ والہٖ وسلم

---

1...نور العرفان، پارہ:28، سورۂ حشر، زیرِ آیت:10، صفحہ:873 بتصرف قلیل۔

2...مسندُ الشّامیین لِلطَّبَرانی، جلد:3، صفحہ:234، حدیث 2155۔

3...فاتحہ اور ایصال ثواب کا طریقہ، صفحہ:7، 8۔



www.dawateislami.net

## (2): ايصالِ ثواب کوئ!

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د مرحومانو سره د رحمدلئ کولو دويمه طريقه ده: **اِيصالِ ثواب.** يعني هغوئي ته ثواب بخښل. هسې خو ايصالِ ثواب د مړو د پاره خاص نه دے، د ژوندو د پاره هم ثواب کيدے شي. [1] البته! مرحومانو ته د ايصالِ ثواب ډير حاجت وي ځکه چې هغوئي د دنيا نه تلي وي، د هغوئي د نيکو سلسله بنده شوې وي، لهٰذا د هغوئي د پاره په خاص طور او په عام طور هم د ټولو مسلمانانو د پاره د ايصالِ ثواب کولو عادت جوړول پکار دي.

## د ايصالِ ثواب غوښتنه

اعلىٰ حضرت، امام اهلسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: منقول دي چې د مؤمِنانو رُوحونه ❀ د هرې جُمعې په شپه (يعني د زيارت او د جُمعې ترمينځه شپه) ❀ د اختر په ورځ ❀ د عاشورې په ورځ ❀ او په شبِ بَرأت کښې خپلو کورونو ته راځي او بهر اودريږي او هر رُوح په غمژن تيز آواز غږ کوي چې اے زما کور والؤ! اے زما اولاده! اے زما خپلوانو! (زمونږه د ايصالِ ثواب په نيت سره) د صدقه (خيرات) کولو په ذريعه په مونږه باندې مهرباني اوکړئ. [2]

## د ايصالِ ثواب ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ايصالِ ثواب بالکل جائز دے بلکې د نيکئ کار دے. **په روايتونو کښې دي:** سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د مړي د پاره د

---

[1] ...مرقاة المفاتيح، کتاب الفتن، باب الملاحم، جلد:10، صفحه:69، زيرِ حديث:5434 ماخوذاً۔

[2] ...فتاوىٰ رضويه، جلد:9، صفحه:650۔



www.dawateislami.net

ايصالِ ثواب ترغيب ورکولو. (1) يوه صحابيه رضی اللہ عنہا چا ته چې به بنتِ عَفِيف وئيلے شوه، هغه فرمائي: مونږه چې کله بارګاهِ رسالت ته حاضر شولو نو هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم زمونږ نه په دې خبره باندې بيعت واخستو چې مونږه به د خپلو مرحومانو د پاره فاتحه لوَلو. (2)

سُبْحٰنَ الله! د دې نه اندازه اولګوئ چې د دوارو جهانونو رحمت، مکي مَدَني سلطان صلی اللہ علیہ والہ وسلم به ايصالِ ثواب له څومره اهميت ورکولو. هغوئي صلی اللہ علیہ والہ وسلم د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم نه په دې خبره باندې باقاعده بيعت اخستے وو چې د مړي د پاره به د سورهٔ فاتحه تلاوت کوئ.

## آيا مرحومانو ته ثواب رسي؟

صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِک رضی اللہ عنہ فرمائي: ما عرض اوکړو: يا رسولَ الله صلی اللہ علیہ والہ وسلم ! زما مور پلار دې په تاسو قربان شي...!! مونږه د خپلو مرحومانو د پاره صدقه کوو، د هغوئي د پاره حج کوو، آيا دا هغوئي ته ور رسي؟ اوئې فرمائيل: آؤ! **دا هغوئي ته ور رسي او هغوئي په دې (ايصالِ ثواب) داسې خوشحاليږي، لکه څنګه چې تاسو (ژوندي خلق) په تحفه ميلاويدو باندې خوشحاليږئ.** (3)

سُبْحٰنَ الله! **خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** چې کله مونږ له څوک تحفه راکړي نو مونږه څومره خوشحاليږو، خوږ نبي، رسولِ هاشمي صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: هم داسې خوشحالي مرحومان هغه وخت کوي، کله چې هغوئي ته د ايصالِ ثواب تحفه وړاندې کړے شي. دا څومره ښکلې خبره ده، اوس لږ تصور خو اوکړئ! ✿ مونږه د صحابهٔ

---

1... کشف الغمہ، کتاب الجنائز، فرع فی انتفاع المیت بالقران...الخ، جز:1، صفحہ:207ماخوذاً۔
2... الاحاد والمثانی لابن ابی عاصم، جلد:6، صفحہ:94، حدیث:3307۔
3... عمدۃ القاری، کتاب الوضو، جلد:2، صفحہ:599، زیرِ حدیث:216۔



www.dawateislami.net

کرامو او اهلبیتِ اطهار رضی الله عنهم د پاره ایصالِ ثواب کوو ❁ اولیائے کرامو رحمة الله علیهم ته د ایصالِ ثواب نذرانې لیږو ❁ د حُضُور غوثِ پاک رحمة الله علیه یوولسمه شریفه کوو ❁ د خواجه حُضُور رحمة الله علیه نیاز [یعني خیرات] کوو او په خلقو باندې یې تقسیموو او د هغې ثواب هغوئي ته بخښو ❁ د اعلیٰ حضرت رحمة الله علیه په خدمت کښې ثواب وړاندې کوو، په دې باندې به دا بزرګان ډیر خوشحالیږي. او دا زمونږه ایمان او یقین دے چې د چا نه ❁ صحابهٔ کرام ❁ اهلِ بیت اطهار ❁ اولیائے کرام خوشحاله شي، نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم! هغه به کامیاب شي.

## ډوب شوي جازونه واپس میلاو شول

یو سوداګر وو، هغه به د سمندري جازونو په ذریعه تجارت کولو، یو ځل هغه د تجارت د سامان نه ډک سمندري جازونه د تجارت د پاره اولیږل خو د **الله** پاک شان څه داسې وو چې هغه ټول جازونه په سمندر کښې ډوب شول. د هغه نوکرانو هغه ته خط اولیکو او دا ټول حالات یې پکښې بیان کړل نو هغه ډیر په اطمینان او یقین سره جوابي خط اولیکو، د هغه خط مضمون دا وو، یو عاشق دا د شعرونو په شکل کښې بیان کړے دے، هغه اووئیل:

ادا کرتے ہیں شہ کی گیارہویں ہم | ہمیں اس بات کا مُطلق نہیں غم
اسی بحرِ کرامت کے کرم سے | ہو بیڑا پار اس بحرِ اَلَم سے
تعجب ہے ہمیں لکھتے ہیں یہ کیا | مُزَکّٰی مال کیوں ہو غرق میرا
طفیلِ نُوح، بہرِ عزّت و جاہ | جہاز اپنے نہ ڈوبے ہوں گے واللہ[1]

خلاصه دا ده چې هغه نوکرانو ته اووئیل: کوم جازونه چې ډوب شوي دي، هغه زما

---

[1]...برکات گیارہویں، صفحہ:25-26 خلاصۃً۔



www.dawateislami.net

نشي كيدے، تاسو جازونه لټوئ! ځکه چې زه د غوث پاک رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د يوولسمې شريفې د خيرات كولو پابندي كووم. چې څنګه خط ميلاو شو نو نوكرانو يې جازونه لټول شروع كړل! آخر چې كله غاړې ته اورسيدل نو اوئې كتل چې جازونه سره د سامان صحيح سلامت موجود دي. سُبْحٰنَ الله.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ايصالِ ثواب د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا ده

اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره ډير محبت كوي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته ايصالِ ثواب فرمائيلے وو. **په حديثِ پاک كښي دي:** خوږ نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دوه ګډان ذبح كړل، د يو ثواب يې ټول اُمَّت ته اورسولو [يعني اوبخښلو] او يو يې د ځان او اهلِ بيتو د پاره ذبح كړو. (1)

## د بخښنې يوه وجه

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** رسولِ ذيشان، مكي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل اُمَّت سره ډير محبت كوي، لهٰذا څوک چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت ته خاص طور وفات شوو اُمَّتيانو ته فائده رسوي، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه نه ډير خوشحاليږي. ډير لوئي ولي كامِل، حضرت مالک بن دينار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه بيانوي چې زه د جُمعې په شپه هديرې ته لاړم نو اومې كتل چې هلته يو نُور پرقيږي، ما اووئيل: لَا اِلٰهَ اِلَّا الله داسې ښكاري چې **الله** پاک هديرې والا بخښلي دي. په دې كښې د لرې نه ما ته يو

---

1…ابن ماجہ، کتاب الاضاحی، باب اضاحی رسول اللہ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحہ:509، حدیث:3222۔



www.dawateislami.net

غیبي آواز اوشو: اے مالک بن دیناره! دا د مسلمانانو د خپلو مرحومانو ورونړو د پاره تحفه ده. ما اووئیل: تاسو ته دې د هغه واسطه وي چا چې تاسو له د وئیلو طاقت درکړے دے! آیا ما ته وئیلے نه شئ چې دا څه قیصه ده؟ هغه اووئیل: نن شپه یو مسلمان پاڅیدو او اودس یې اوکړو او دوه رکعته نمونځ یې ادا کړو په کوم کښې چې هغه د سورۀ فاتحه نه پس د قُلۡ يٰۤاَيُّهَا الۡكٰفِرُوۡنَ او قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ تلاوت اوکړو او بیا یې دعا اوکړه: اے **الله** پاکه! زه د دې ثواب مسلمانانو مرحومانو ته وړاندې کووم. پس **الله** پاک په مونږ باندې د مشرق او مغرب نه رڼا او نُور او خوشحالي او سُرور راخور کړو.

حضرت مالک بن دینار رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: د هغې نه پس بیا ما د هرې جُمعې په شپه د دې نمونځ کولو او وفات شوو خلقو ته د دعا کولو معمول جوړ کړو. د دې نیک عمل په برکت په ما دا کرم اوشو چې یوه شپه زه اُوده شوم نو خوږ مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم ما ته په خوب کښې د خپل دیدار مبارک شرف راعطا کړو او ارشاد یې اوفرمائیلو: **اے مالک بن دیناره! څومره د نُور تحفې چې تا زما اُمَّت له ورکړې دي الله پاک د هغې په بدله کښې تۀ بخښلے یې، تا ته یې هم د هغې ثواب عطا کړے دے، او په جنّت کښې یې ستا د پاره یو کور جوړ کړے دے.** [1]

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## صحابۀ کرام او د مرحومانو سره رحمدلي

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** ایصالِ ثواب د صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم په معمولاتو کښې شامل وو. چې کله به څوک د دنیا نه رخصت شو نو صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم به په مختلفو طریقو د هغه د پاره ایصالِ ثواب کولو. **په روایتونو کښې دي:** ❁ د انصارو

[1] ...شرح الصدور، باب ما ينفع الميت في قبره، صفحه:215۔



www.dawateislami.net

صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم دا معمول وو چې کله به څوک وفات شو نو د هغه قبر له به تلل او هلته به يـې د قرآنِ کريم تلاوت کولو. (1) ❁ حضرت امام حسن او امام حُسَين رضی اللہ عنہما به د خپل والدِ محترم يعني د مسلمانانو د څلورم خليفه مولیٰ علي، شيرِ خُدا رضی اللہ عنہ د ايصالِ ثواب د پاره غلامان آزادول. (2) ❁ حضرت سعد رضی اللہ عنہ د خپلې مور بي بي د وفات نه پس د هغې د ايصالِ ثواب د پاره د اوبو يو کوهے اوکنستو، خوږ آقا صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم د هغې نوم بئرِاُمِّ سَعد (يعني د سعد د مور کوهے) کيښودو. (3) ❁ امام سيوطي رحمۃ اللہ علیہ ليکي: صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم به تر اووه ورځو پورې د مړي د اړخ نه [په خلقو] ډوډۍ خوړله. (4) ❁ هم دغه شان صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم به په نورو ډيرو طريقو مړي ته فائده رسوله، مثلاً ❁ سورۀ يٰس شريف به يـې لوستلو او د هغې ثواب به يـې مړي ته بخښلو ❁ د بزرګانو په استعمال شوو جامو کښې به يـې مړي ښخول ❁ په کفن باندې به يـې آيت، کلمه مبارکه وغيره ليکله د پاره د دې چې مړي ته د دې نه فائده اورسي ❁ د دفن کولو نه پس به يـې مړي ته تلقين کولو (يعني په **حديثِ پاک** کښې د بيان شوې طريقې مطابق به يـې مړي ته سوالونه او جوابونه وريادول) ❁ د هغه د پاره به يـې د قبر په امتحان کښې د کاميابۍ دعا کوله ❁ په قبر باندې به يـې شنه څانګه يا بَل څه شين څيز کيښودو (د پاره د دې چې د دې د تسبيح [يعني ثناء کولو] نه مړي ته فائده اورسي) ❁ د دفن کولو نه پس به د مړي خوا ته ايساريدل ❁ هديرې ته به تلل او دعاګانې به يـې کولې ❁

---

1...شرح الصدور، باب فی قراءة القرآن للمیت...الخ، صفحہ:218۔

2...مصنف ابن ابی شیبۃ، کتاب الجنائز، باب ما یتبع المیت بعد موتہ، جلد:3، صفحہ:262، حدیث:12۔

3...ابو داود، کتاب الزکاة، باب فی فضل سقی الماء، صفحہ:274، حدیث:1681 مختصراً۔

4...الحاوی للفتاویٰ، طلوع الثریا باظہار ماکان خفیا، صفحہ:591۔

د مرحُوم د ایصالِ ثواب د پاره به یـې صدقه کوله ❁ او د هغه د اړخ نه به یـې قرباني هم کوله. (1)

سُبْحٰنَ الله! **الله** پاک دې مونږ له هم توفيق راکړي، مونږ له هم د خپلو مرحومانو سره نیک سلوک کول پکار دي. **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفیق رانصیب کړي.

وہ ظہوریؔ یار میرا، وہی غم گُسار میرا
میری قبر پر جو آ کر نعتِ نبی سُنائے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ایصالِ ثواب طریقه!

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ایصال ثواب ډیره آسانه نیکي ده، او هغه داسې چې مونږ هر نیک کار اوکړو، که فرض وي که نفل وي، که مالي خیرات وي که درود شریف یا تلاوت وي که د سنتو ډکه اجتماع کښې شرکت وي که په **مَدَني قافله** کښې سفر وي، بس چې کوم عبات یا نیک کار هُم اوکړو نو بیا په زړه کښې دا نیت اوکړو چې ما د دې عبادت، د دې نیک کار ثواب حضور صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته نذرانه کړو، او د هغوئي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خاطر مې د حضرت آدم عَلَیْهِ السَّلَام نه واخله تر قیامته پورې ټولو مسلمانانو بالخصوص ټولو انبیائے کرامو عَلَیْهِمُ السَّلَام ټولو صحابهٔ کرامو و اهل بیت اطهار رَضِیَ اللهُ عَنْهُم ته ټولو اولیاءُ کرامو رَحِمَهُمُ اللهُ عَلَیْهِم ته خپل پیر و مرشد او خپل مور او پلار او خپلو ټولو خپلوانو عزیزانو ته اوبخښلو نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم ټولو ته به ثواب اورسیږي، په زړه کښې د نِیَّت کولو سره سره که په خُله هُم د ثواب بخښلو اووئیلے شي نو زیاته بهتره ده.

---

1...سورِ صحابہ میں ایصالِ ثواب کی مختلف صورتیں، صفحہ: 51-158 ملخصاً۔



www.dawateislami.net

دا يو ډېر آسان کار دے او په دې به مونږ ته ټولو ته هُم ډېر ثواب ميلاويږي. **په بهار شريعت کښې دي**: د ایصالِ ثواب کوونکي [يعني ثواب بخښونکي] په ثواب کښې به هيڅ کمے نه کيږي بلکه دا اميد دے چې څومره خلقو ته يې ثواب بخښلے دے د هغوئي ټولو د شمير برابر به ثواب بخښونکي ته ثواب ميلاويږي.

## د مور پلار د پاره ایصالِ ثواب ضرور کوئ!

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د ټولو مسلمانانو د پاره هم ایصالِ ثواب کولے شئ او کول هم پکار دي، البته! د خپل مور پلار د پاره ایصالِ ثواب کول، که وفات شوي وي نو د هغوئي قبر له تلل ډېر ضروري دي. دا هم د مور پلار په بے شميره حقونو کښې يو حق دے. په دې باره کښې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پينځه فرامين مبارک واورئ: **(1)**:د ثواب په نيت د مور پلار د قبر زيارت کوونکي ته به د قبول شوي حج برابر ثواب ميلاويږي او [څوک چې] په کثرت سره د هغوئي د قبر زيارت کوي (چې کله هغه وفات شي نو) د هغه د قبر د زيارت کولو د پاره به فرښتې راځي. [1] **(2)**: څوک چې د خپلې مور يا پلار د اړخ نه حج اوکړي نو د هغوئي (يعني مور يا پلار) د اړخ نه به حج ادا شي او حج کوونکي ته به د نورو لسو حجونو ثواب ميلاويږي. [2]

سُبْحٰنَ اللّٰه! چې کله **اللّٰه** پاک د نفلي حج سعادت درکړي نو د مرحومانو مور يا پلار د پاره نيت اوکړئ د پاره د دې چې هغوئي ته هم د حج ثواب حاصل شي، ستاسو به هم حج اوشي بلکې د نورو لسو حجونو ثواب به په لاس درشي. که په مور پلار کښې څوک په

---

1...نوادرالاصول، الاصل الخامس عشر...الخ، جلد:1، صفحه:72۔

2...دار قطني، کتاب الحج، باب المواقيت، جلد:1، صفحه:204، حديث:2587۔



www.dawateislami.net

داسې حالت کښې وفات شو چې په هغوئې باندې حج فرض وو او هغوئې نه وو کړے نو بيا اولاد ته د حجِ بدل شرف حاصلول پکار دي. د "حج بدل" په تفصيلي احکامو د ځان پوهه کولو د پاره د **امیرِ اهلسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه کتاب رَفِيقُ الحَرَمَين صفحه 208 نه 214 پورې اولولئ.

**(3):** فرمان مُصطفٰی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: چې کله په تاسو کښې څوک څه نفلي خيرات کوي نو پکار دي چې هغه د خپل مور پلار د اړخ نه اوکړي چې د دې ثواب به هغوئې ته [هُم] میلاو شي او د هغه (يعنې د خيرات کوونکي) په ثواب کښې به [هُم] هيڅ کمے نه کيږي. [1] **(4):** په يو روايت کښې فرمائيلي دي: بنده چې کله د خپل مور پلار د پاره دُعا پريږدي د هغه رزق قَطع شي. [2] **(5):** په يو بل حديث شريف کښې دي: څوک چې د جُمعې په ورځ د خپل مور پلار يا په هغوئې کښې د يو د قبر زيارت اوکړي او د هغې په خوا کښې سورۀ يٰسٓ اولولي. هغه به اوبخښلے شي. [3]

صَــلُّــوْا عَــلَى الْـحَــبِـيْـب!   صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان خلاصه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! خلاصۀ کلام دا ده چې مونږ مسلمانان يو او زمونږه خوږ دين اسلام مونږ ته د نيکئ سبق راښائي، مونږ له پکار دي چې د عامو دنيادارو په شان صرف د قبر د کندې تر حده پورې نه اوسو بلکې د خپلو خپلوانو بلکې د ټولو

---

1...شُعَبُ الْاِيمَان، باب فی بر الوالدين، فصل فی حفظ حق...الخ، جلد:6، صفحه:205، حديث:7911۔

2...جمع الجوامع، جلد:1، صفحه:292، حديث:2138۔

3...الکامل لابن عدی، رقم:1321، عمرو بن زياد...الخ، جلد:6، صفحه:106۔



www.dawateislami.net

مسلمانانو وروڼو سره د مرګ نه پس هم ښيګړه کوو. د دې دوه طريقې دي: **(1):** يوه دا چېد هغوئي د پاره د بخښنې دعا کوو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! چې د څومره مسلمانانو د پاره د بخښنې دعا کوو، د هغوئي د شميرې برابر به نيکئ ميلاويږي. که د ټولو مسلمانانو د پاره دعا کوو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! په سيکنډ کښې به اربونه کهربونه نيکئ اوګټو. **(2):** دويمه طريقه دا ده چې د ايصالِ ثواب عادت جوړ کړو. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د **اللّٰه** پاک د رحمت نه اُميد دے چې د يوې نيکئ ثواب څومره ګسانو ته وربخښو، د ټولو د شميرې برابر به ثواب زمونږه په اعمال نامه کښې ليکلے شي. يعنې د ايصالِ ثواب په ذريعه مونږه خپله يوه نيکي څو سوه چنده بلکې په اربونو کهربونو چنده زياتولے شو.

**اللّٰه** پاک دې مونږ ټولو ته د نيکو اعمالو توفيق رانصيب کړي. د ايصالِ ثواب د فائدو او د دې په باره کښې د تفصيلي معلوماتو دپاره د شيخ طريقت اميرِ اهلِ سُنَّت حضرتِ علامه مولانا **محمد** اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَہ **مختصره** رساله "فاتحہ اور ایصالِ ثواب کا طریقہ" اولولئ!

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼو!** د سُنَّتو پابند جوړيدو او د نيکو جذبه موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول سره هر وخت تړون ساتئ. په ديني کارونو کښې عملي طور شرکت کوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې به تاسو ته ډير برکتونه حاصل شي. په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: هفته واره اجتماع هم ده. **تاسو ته خواست دے** چې ✿ په پابندئ سره په دې کښې شرکت کوئ! په ديني اجتماع کښې د کښيناستو او ذکر کولو به خپل څومره شان وي! د **حديثِ پاک** مطابق څوک چې د دوئي سره کښيني، هغه بدبخته نه پاتې کيږي. [(1)]

---

1... مسلم، کتاب الذکر والدعاء...الخ، باب فضل مجالس الذکر، صفحہ:1037، حدیث:2689۔



www.dawateislami.net

❁ اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په هفته واره اجتماع کښې ذِکر کيږي ❁ عِلم دِين هم زده کيږي ❁ په نيک صحبت کښې کښيناستل او ❁ په جومات کښې وخت تيرول نصيب کيږي ❁ يو اهم برکت دا چې د ديني اجتماع د پاره تلل هم د **الله** پاک په لاره کښې وَتل دي، چې هفته واره اجتماع ته تشريف راوړئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د کور نه د وتلو نه واخله تر واپس تللو پورې ټول وخت به مو د **الله** پاک په لار کښې شميرلے کيږي.

د هر زيارت په ورځ په پابندئ سره په **هفته واره اجتماع** کښې د اَوَّل نه تر آخره پورې د شرکت کولو نيت کوئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د ګناهونو نه ډک ژوند يې بدل شو

د کراچئ (پاکستان) د يو اسلامي ورور بيان دے: د دعوتِ اسلامي ديني ماحول ته د راتلو نه مخکښې ما د ګناهونو نه ډک ژوند تيرولو، د دُنيا په مزو کښې مصروف اوسيدل زما معمول وو، د خرابو دوستانو صحبت زه خراب کړے ووم، د دوستانو سره به په شريکه ټوله شپه د ګناهونو نه ډکه سلسله روانه وه، يو ځل يو اسلامي ورور ما ته د ماښام په وخت د نمونځ کولو دعوت راکړو، پته نه لګي چې د هغه په دعوت کښې څه اثر وو چې زه د هغوئي سره د جومات په لور روان شوم، د ماښام نمونځ مې اوکړو، د نمونځ نه پس يو اسلامي ورور د **فيضانِ سُنَّت** نه درس ورکړو، د درس نه فوراً پس اسلامي ورونړو په هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې د شرکت کولو تياري شروع کړه. يو اسلامي ورور ماله هم په **هفته واره اجتماع** کښې د شرکت کولو ترغيب راکړو، د هغه انداز دومره ښکلے وو چې زه فوراً په اجتماع کښې د شرکت کولو د پاره تيار شوم، بيا ډير زر د اسلامي ورونړو

سره په شریکه عالمي مَدَني مرکز فیضانِ مدینه ته اورسیدم، هلته مې د سُنَّتو نه ډک بیان واوریدو، په ذِکرُ الله کښې مصروفه شوم، بیا د ژړا نه ډکه دُعا اوکړے شوه. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي د هفته وارې اجتماع او د عاشقانِ رسول د صحبت په ما باندې دومره اَثر اوشو چې ما د دُعا په وخت په ژړا ژړا د خپلو ګناهونو نه توبه کړه او بیا د پاره مې په نیکو کښې د ژوند تیرولو پوخ نیت اوکړو، د اجتماع نه د واپس کیدو نه پس ما د نـمونځونو پابندي شروع کړه او د نیکو نه ډک ژوند تیرولو کښې مصروف شوم.

اسی ماحول نے ادنیٰ کو اعلیٰ کر دیا دیکھو! | اندھیرا ہی اندھیرا تھا اُجالا کر دیا دیکھو!

صَـلُّـوْا عَـلَی الْـحَـبِـیْـب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## نعت کولیکشن (Naat Collection) موبائل ایپلي کیشن

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! نن سبا د ټیکنالوجي دور دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دیني تحریک دعوتِ اِسلامي د سمارټ فون (***Smartphone***) په ذریعه هم عِلم دِین عام کوي. دې لړ کښې د دعوتِ اِسلامي د آئي ټي ډیپارټمنټ له خوا یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے شوے دے: د کوم نوم چې: ***Naat Collection*** (نعت کولیکشن) دے. ❁ په دې ایپ کښې د اعلیٰ حضرت، شهزادګانِ اعلیٰ حضرت، برادرِ اعلیٰ حضرت مولانا حسن رضا خان، د اعلیٰ حضرت د خلیفه مولانا جمیل الرحمن، د مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْهِم او د امیر اهلسُنَّت مولانا محمد الیاس قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه کلامونه شامل کړے شوي دي ❁ په هره مجموعه کلام کښې کلامونه د حروف تهجي او ردیف په ترتیب سره کتلے شئ. د سرچ بار په ذریعه د خپلې خوښې کلام په آسانئ سره لټولے شئ ❁ کلام په ***mp3*** کښې د ډاؤن لوډ کولو سهولت هم



www.dawateislami.net

موجود دے ❁ د خپلې خوښې په کلام نخښه لګولے شئ او بیا بیا یې اوریدے شئ ❁تاسو د خپلې خوښې کلام په مائي کلیکشن فیچر کښې محفوظ کولے شئ. کلام یا شعر کاپي کولے شئ او په واټس ایپ، فیس بک، ټویټر وغیره باندې یې شیئر کولے هم شئ. دا ایپ پخپله هم ډاؤن لوډ کړئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونـو! د بیان په آخره کښې د ایصال ثواب په باره کښې یو څو مدني ګلونه وړاندې کووم:

## د اِیصالِ ثواب مَدَني ګلونه

(1): د ایصالِ ثواب لفظي معنٰی ده: "ثواب رَسَوَل" دې ته "ثواب بخښل" هم وئیلے شي خو د بزرګانو د پاره "ثواب بخښل" وئیل مناسب نه دي، "ثواب نذرانه کول" وئیل ادب ته ډیر نزدې دي. (2): د ❁ فرض ❁ واجب ❁ سُنَّت ❁ نفل ❁ نـمونځ ❁ روژې ❁زکوٰة ❁ حج ❁ تلاوت ❁ نعت شریف ❁ ذِکرُ الله ❁ دُرُود شریف ❁ بیان ❁دَرس ❁ مَدَني قافله کښې سفر ❁ علاقائي دوره ❁ د دیني کتاب لوستل ❁ د نیکئ د دعوت وغیره هر نیک کار ایصالِ ثواب کولے شئ. (3): د مړي ❁ دریمه ❁ لسمه ❁څلویښتمه ❁ او کال کول ډیر ښه کارونه دي چې دا هُم د ایصالِ ثواب ذریعې دي.(4): د دریمې خوراک عموماً د دعوت شکل کښې وي ځکه د مالدارو خلقو د پاره جائز نه دي صرف غریبانان او مسکینان دې یـې خوري، د دریو ورځو نه پس هُم د مړي د خیرات نه مالدارو (یعني څوک چې غریبانان نه وي هغوئې) له لیږل پکار دي. (5):د یوې ورځې ماشوم پسې هم ایصال ثواب کولے شي، د هغه د پاره په دریمه وغیره



www.dawateislami.net

کولو کښې هم څه باک نشته. او کوم چې ژوندي دي د هغوئي د پاره هم ايصالِ ثواب کيدے شي. (6):انبيائے کرامو او مُرسلين عليهم السّلام او فرښتو او مسلمانانو پيريانو ته هم ايصالِ ثواب کيدے شي. (7): د يوولسمې شريفې او رَجَبي شريف (يعني په پينځلسم رجب شريف امام جعفرِ صادِق رحمة الله عليه ته ثواب نذر کول) وغيره جائز دي. (8): داستانِ عجيب، شهزادے کا سر، دس بيبيوں کی کهانی او جناب سيّده کی کهانيان وغيره ټولې د ځانه جوړے کړے شوې قيصې دي، هغه هيڅکله هم مه لولئ. دغه شان يو پمفلټ په نوم د " وصيت نامه" خلق تقسيموي په کوم کښې چې د چا "شيخ احمد" خوب درج دے، دا هم جعلي (يعني نقلي) دے د دې لاندې په خاص شميره کښې د چاپ کولو او تقسيمولو فضيلت او د نه تقسيمولو نقصانونه وغيره ليکلے شوي دي په دې هم باور مه کوئ. (9): د اوليائے کرامو رحمة الله عليهم د فاتِحه خوراک ته تعظيماً "نذر او نياز" وئيلے شي او دا جائز دے، دا مالداره او غريبانان ټول خوړلے شي. (10): د نياز او ايصالِ ثواب په خوراک باندې د فاتِحه لوستلو د پاره څوک راغوښتل يا د بهر په ميلمه باندې خوراک کول شرط نه دے، د کور خلق که پخپله هُم فاتحه اولولي او اوئې خوري بيا پکښې هم څه باک نشته. (11): روزانه چې څومره هم خوراک حسبِ حال د ښو ښو نيتونو سره کوئ، په هغې کښې که د يو بزرګ د ايصالِ ثواب نيت کوئ نو ښه ده. مثلاً ❁ په ناشته کښې نيت اوکړئ: د ننئ ناشتې ثواب دې د مدنی سرکار صلّی الله عليه واله وسلّم او د هغوئي په ذريعه ټولو انبيائے کرامو عليهم السّلام ته اورسي. ❁ د غرمې نيت اوکړئ: اوس چې کوم خوراک کوو (يا مو اوکړو) د هغې ثواب دې سرکارِ غوثِ اعظم او ټولو اوليائے کرامو رحمة الله عليهم ته اورسي، ❁ د شپې نيت اوکړئ: اوس چې څه خورو د هغې ثواب دې اعلیٰ حضرت، امامِ اهلسُنَّت امام احمد رضا خان رحمة الله عليه او ټولو مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ



www.dawateislami.net

ته اورسي یا دې په هر ځل ټولو ته ایصالِ ثواب کړے شي او دا زیات مناسب دي. **یاد ساتئ!** ایصالِ ثواب به صرف په هغه حالت کښې کیدے شي کله چې هغه خوراک په څه ښه نیت سره اوخوړلے شي مثلاً په عبادت باندې د توان حاصلولو په نیت سره اوخوړلے شو نو دا خوراک د ثواب کار شو او د دې ایصالِ ثواب کیدے شي. که یو هم ښه نیت نه وي خوراک کول مُباح دے چې په دې نه ثواب شته او نه ګناه، نو چې ثواب میلاو نه شو نو ایصالِ ثواب به څنګ اوشي! البته که په نورو د ثواب په نیت اوخوړے شو نو د هغې خوراک ایصال ثواب کیدے شي. **(12):** د ښو ښو نیتونو سره د خوراک کولو نه مخکښې یې ایصالِ ثواب کړئ یا یې د خوراک نه پس، دواړه صحیح دي. **(13):** که کیدے شي نو هره ورځ (په نفع باندې نه بلکې) د خپل خرڅ په څلور سوه روپو کښې یوه روپۍ او نوکري کوونکي دې په تنخوا کښې د میاشتې کم نه کم یو فیصد د سرکارِ غوثِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د نیاز د پاره اوباسي، د ایصالِ ثواب په نیت سره په دې رقم دیني کتابونه تقسیموئ یا یې په څه قِسمه نیک کار کښې لګوئ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې برکتونه به پخپله اووینئ. **(14):** جومات یا مدرسه جوړول صَدَقۂ جارِیَّه او د ایصالِ ثواب بهترینه ذریعه ده. **(15):** ایصالِ ثواب صرف د مسلمان د پاره کولے شئ. کافِر یا مُرتَد ته ایصالِ ثواب کول یا هغه ته "مرحوم"، "جَنَّتی"، "په جَنَّت کښې اوسیدونکے"، "بخښلے شوے"، "رحم کړے شوے" وئیل **کفر** دے.[1]

مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدینه د **بهارِ شریعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شیخ طریقت، امیر اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ د 91 صفحو رساله 550 **سنتیں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو یوه بهترینه ذریعه

[1]...فاتحہ اور ایصال ثواب کا طریقہ، صفحہ: 12-18 ملتقطاً۔



www.dawateislami.net

د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

| | |
|---|---|
| لوٹنے رحمتیں قافلے میں چلو | سیکھنے سُنتیں قافلے میں چلو |
| سنتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو |

**الله** پاک دې مونږ له د عمل کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګاني

## ﴾1﴿ د شَبِ جُمعے [یعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې خوك هره شَبِ جُمعه (یعني د جُمعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شریف پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 . . . افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا



www.dawateislami.net

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِ نَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سیِّدُنا انَس رضی الله عنه نه روایت دے چې تاجدارِمدینه صلّی الله علیهٖ واٰلهٖ وسلّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمة الله عليه د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئي اُووائيو.

---

1 ...القول البديع، الباب الثانی، ص۲۷۷

2 ...افضل الصلوات علی سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص۱۴۹

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تر مینځه کښینولو، په دې باندې صَحابَهٔ کرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم حیران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [یعني اوچتې مرتبې والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شریف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شریکه اووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر ورځو نیکۍ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې سرکارِ مدینه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے یو زر ورځو پورې نیکۍ لیکي.[3]

1 ...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

2 ...الترغیب والترہیب، کتاب الذکر والدعاء، ۲/۳۲۹، حدیث:۳۰

3 ...مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، باب فی کیفیۃ الصلاۃ...الخ، ۱۰/۲۵۴، حدیث:۱۷۳۰۵



www.dawateislami.net

راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[1] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵



www.dawateislami.net